# د پښتون ايس ايف امن کنونشن

د پښتون سټوډنټس فيډريشن ايوب ميډيکل ايبټ آباد کالج د څانګې امن کنونشن د جون د مياشتې په شپږمه نېټه ۲۰۰۸ د حنيف خان په مشرۍ کښې وشو. په دې غونډه کښې مشر مېلمهٔ د اې اين پي پښتونخوا صوبې د هائير ايجوکېشن وزير قاضي اسد او مشره مېلمنه د سوشل ويلفئير صوبائي وزيره د پي ايس ايف مرکزي صدر بشير احمد شېرپاؤ او صوبائي صدر شکيل الرحمان برکي په دې کنونش کښې ګډون وکړو.

د پښتون ايس ايف ايوب ميډيکل کالج کښې درې سوو طالبعلمانو جينکو او تقريباً درې سوو هلکانو طالبعلمانو رکنيت سازي کړې ده او دوي د پي ايس ايف مستقل غړي دي.

د پي ايس ايف د کنونش د نمانځلو په دې موقع د پي ايس ايف مرکزي صدر بشيرشېرپاؤ د کالج د نوې کابينې نه سوګند واخستلو. د سوګند اخستلو نه پس يوه خصوصي ډاکمنټري وچلېده چې په پرده باندې طالبعلمانو ته وښودلې شوه.

دې نه پس د ايوب ميډيکل صدر حنيف خان، د پي ايس ايف صوبائي صدر شکيل الرحمان برکي، مرکزي صدر بشير شېرپاؤ، ستاره اياز او مشر مېلمه قاضي اسد غونډې ته وينا وکړه.

وينا کوونکو په خپله وينا کښې ووئيل چې د امن په حواله اود امن دپاره د فخر افغان باچاخان، رهبر تحريک خان عبدالولي خان او زمونږ د رهبر او ليډر اسفنديار ولي خان قربانۍ د چا نه پټې پناه نهٔ دي. مونږ په حقيقي معنو کښې امن غواړو او د هر قسم دهشت ګردۍ، انتها پسندۍ په سختۍ سره غندنه کوو. کهٔ چرې تاسو تاريخ وګورئ نو تاسو ته به واضحه شي چې زمونږ مرام او مقصد په پښتنه خاوره امن راوستل او په خپلو وسيلو باندې خپل اختيار حاصلول دي.



وينا کوونکو په خپله وينا کښې ووې چې د ټولو مسئلو حل صوبائي او معاشي خودمختاري او د امن په راوستلو کښې دے. دوي ووئيل چې مونږ ډېر خوشحاله يو چې زمونږ خويندو د پښتنو درد محسوس کړو او دا فېصله ئې وکړه چې د باچاخان د عدم تشدد او د پښتنو د حقوقو د حاصلولو دپاره ئې د پښتون ايس ايف ملا تړ وکړو او زمونږ د پي ايس ايف په ډله کښې ئې شموليت اختيارکړو. مونږه دوي ته د زړهٔ د تل نه مبارکي ورکوو او دا اميد لرو چې زمونږ دا خويندې به هم هغسې کردار ادا کوي څنګه کردار چې پښتنې ملالۍ د انګرېزانو په ضد ادا کړے وُ. دوي په خپله وينا کښې ووې چې د مستقبل د ډاکټرانو په حېث تاسو باندې ډېرې زياتې ذمه وارۍ دي ولې چې تاسو به د خپلې صوبې د غريبو خلقو خدمت کوئ او د انسانيت په خدمت کولو کښې به اهم رول لوبوئ. د غونډې په دې موقع د غريبو طالبعلمانو سره د مرستې کولو په لړ کښې د پنځويشتو، پنځويشتو زرو روپو اعلان وکړے شو.